**بسم الله الرحمن الرحيم**

# آیا چین په منځني ختیځ کې نوی ځواک دی؟

شي جین پینګ د دسمبر په ۱۱مه سعودي عربستان ته خپل درې ورځنی سفر پای ته ورساوه، دغه سفر د سیمې او نړۍ پام ځانته واړوه. شي جین پینګ دغه سفر د سعودي-چین په اړیکو کې (نوې څپرکی) یاد کړ. دغه سفر ته نړیوالو رسنیو ډېر پوښښ ورکړ او ډیری پر دې باور دي چې چین په منځني ختیځ کې نوی ځواک دی. دا سفر په داسې حال کې کېږي چې د تایوان پر سر د چین او امریکا تر منځ لانجې زور اخیستی او د سعودي د پاچا، محمد بن سلمان او جوبایډن ترمنځ هم اړیکې کړکېچنې دي. ډېرو نړیوالو رسنیو د نوموړي دا سفر امریکا ته یو زېګنال او زور ښودل وبلل او دا چې سعودي له امریکا څخه لرې او چین ته نیږدې کېږي.

سعودي او چین د یو لړ تړونونو په کولو وښودله چې اړیکې یې په ژوربېدو دي. د چین او سعودي مشرانو (د پراخې ستراتېژیکې همکارۍ تړون) لاسلیک کړ چې د هایدروجني انرژۍ تړون او د سعودي د پاچاهۍ لرلید ۲۰۳۰ او د چین یوه کمربند یوې لارې نوښت ترمنځ د همغږۍ زیاتول پکې شامل وو. دواړو لورو د ټېکنالوژۍ په برخه کې هم څو تړونونه لاسلیک کړل. سعودي پرس اژانس (SPA) له دغه سفر وروسته شاوخوا ۴۰۰۰ کلیمې <u>ګډه اعلامیه</u> خپره کړه چې د انرژۍ، امنیت، د ایران اټومي پروګرام، د یمن بحران او پر اکراین د روسیې د یرغل په ګډون ګڼ موضوعات یې رانغاړل.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکا په مشرۍ نړیوال نظم جوړ او شوروي اتحاد سیالي ورسره کوله. چین د منځني ختیځ په ګډون د نړۍ له ډېرو سیمو لرې شوی و. د شوروي اتحاد په ړنګیدو سره چین وغوښتل چې نړیوال موقف ترلاسه کړي او په تایوان کې د سیال پیدا کېدو په بیه یې د منځني ختیځ له ځینو هېوادونو سره اړیکې پیل کړې. په ۱۹۹۳ کې چین د کورنۍ انرژۍ اړتیا له خپلو کورنیو تولیداتو څخه نه شوه پوره کولی؛ نو د انرژۍ واردولو لپاره یې منځني ختیځ ته مخه کړه. تر ۱۹۹۵ پورې منځنی ختیځ د چین لپاره د نفتو لومړۍ درجه سرچینه شوه. د چین چټک پرمختګ او ګڼ نفوس په دې مانا دی چې دا هېواد د خامو موادو، سوداګریزو توکو او تر ټولو مهم، نفتو برابرولو لارو ته اړتیا لري؛ دلته لومړی پام منځني ختیځ ته اوړي. په ۲۰۲۱ کې چین په ورځ کې ۱۵،۳ میلیون بېرله نفت مصرفول. له دې ډلې یې تر ۵ میلیونه بېرلو کم له خپلو کورنیو تولیداتو پوره کول؛ همدا لامل و چې چین له امریکا څخه مخکې او په ۲۰۱۷ کال کې د نفتو تر ټولو لوی واردونکی هیواد شو. ۴۵ هېوادونه د چین د نفتو اړتیا پوره کوي؛ خو نیمایي اړتیا یې د منځني ختیځ له ۹ هېوادونو پوره کېږي، په دې کې د سعودي ونډه تر ټولو لویه ده. په منځني خیتځ کې د چین د شتون لوی لامل انرژي ده. منځنی خیتځ به د چین لپاره د نفتو تر ټولو لویه سرچینه پاتې شي او د منځني ختیځ او سعودي ستراتېژیک ارزښت همدا دی چې چین ته د نفتو تر ټولو لوی صادروونکي دي.

ډېرو د امریکا او سعودي ترمنځ وروستۍ پېښه داسې تفسیر کړې چې ګواکې دوه پاخه ملګري سره بېلېږي. د سعودي وروستۍ پرېکړې ته چې د نفتو د تولید له زیاتولو یې ډډه وکړه؛ د سعودي لخو د خپلواک مسیر رسمولو په سترګه وکتل شول. خو په حقیقت کې ستونزه د سعودي او امریکا تر منځ نه، بلکې د امریکا د ډیموکراټ ګوند او محمد بن سلمان ترمنځ ده. جوبایډن په خپل ټاکنیز کمپاین کې په ډاګه وویل چې د ولسمشر ټرمپ او محمد بن سلمان ترمنځ خصوصي اړیکې دي او زه به دا لړۍ و نه غځوم؛ بلکې غوښتل یې محمد بن سلمان د جمال خاشقجي د وژنې په سبب منزوي کړي. کله چې جوبایډن واک ته ورسید؛ له محمد بن سلمان سره یې اړیکې سړې شوې او هڅه یې وکړه چې منزوي یې کړي.

محمد بن سلمان د جمهوري غوښتونکي ګوند ټاکنيز لرليد ته مثبت ځواب ووايه؛ دی د دې ګوند په بريا کې د خپلې بقا هيلېويني. د بروکينګز انسټيټيوټ جګپوړي غړي، بروس ريډل، انټرسيپټ ته وويل: «سعوديان په دې هڅه کې دي چې ټرمپ بيا وټاکل شي او منځمهاله ټاکنې هم MAGA جمهوري غوښتونکي وګټي (د MAGA يعنې امريکا يو ځل بيا لويه کړئ، شعار لېږدوونکي جمهوري غوښتونکي هغه دي چې مشري يې ټرمپ کوي). د نفتو لوړې بيې به ډيموکراټان کمزوري کړي.»[1] د نيو يارک مجلې ليکوال او خبريال، جونا شيپ ليکي: «له شک پرته، د سعودي د خيانت پر وړاندې د جمهوري غوښتونکو د چوپتيا سبب دا دی چې دوی غواړي له دې څخه په لوړه کچه سياسي ګټه واخلي. يوازې د ګازو د بيو يو څه لوړوالی د امريکا په منځمهاله ټاکنو کې لوبې ته بدلون نه ورکوي، خو د ټاکنيزو کمپاينونو په تود بازار کې دا د حاکم ګوند لپاره بد خبر دی.»[2]

په منځني ختيځ کې د چين لپاره تر ټولو لويه ننګونه د امريکا شتون دی. امريکا له دويمې نړيوالې جګړې وروسته له منځني ختيځ څخه د برېتانيې د ايستلو لپاره سخته مبارزه پيل کړه. په سيمه کې د نفوذ پيدا کولو لپاره يې له پوځي کودتا او د کمونيزم د پراختيا ګواښ څخه ګټه پورته کړه. امريکا سعودي عرب او اسراييلو ته امنيتي ضمانتونه ورکړل ترڅو په سيمه کې پوځي نفوذ پيدا کړي. په ۱۹۷۰ کې يې له ايران او مصر سره د اقتصادي مرستو او پوځي سوداګريزو معاملو له لارې خپلې اړيکې ټينګې کړې. امريکا په سيمه کې ځينو هيوادونو ته امنيتي ضمانتونه ورکوي، ترڅو همدا استبدادي رژيمونه چې امريکا ته وفادار دي په واک کې پاتې شي. په منځني ختيځ کې د امريکا په شتون کې د سيمه‌ايزو مسايلو لپاره پلانونه شامل دي؛ لکه د دوو هېوادونو ترمنځ د ستونزو حللاره؛ دغه راز امريکا تر اوسه د امريکا له لويې وچې څخه د پوځي شتون په ساتلو، پېچلو عملياتو کولو او له خپل هېواد څخه بهر د پوځي اډو په ساتلو کې تجربه لري.

چين په منځني ختيځ کې له ډېرو ننګونو سره مخ شو. دا هېواد نه غواړي چې سيمه ايزې شخړې د زور له لارې حل کړي. په حقيقت کې، په سيمه کې د چين پوځي ښکيلتيا ډېره کمه ده. په جيبوتي کې د چين د سمندري ځواک اډه په سيمه کې د چين د شتون تر ټولو ښکاره نښه ده. همدارنګه، چين په لبنان کې د ملګرو ملتونو سوله ساتې ځواکونه او په سوريه کې ځينې پوځي سلاکاران لري. خو د اوس لپاره چين د امريکا د سيمه‌ايز امنيت تر چتر لاندې په تجارت کولو خوشحاله بريښي. بېجينګ په دوديزه توګه د سوداګرۍ او پانګونې پراختيا ته ترجيح ورکړې.

که څه هم په تېره لسيزه کې په منځني ختيځ کې د چين اقتصادي ښکېلتيا زياته شوې؛ خو پوځي او استخباراتي ښکېلتيا يې په حاشيه کې ده. په منځني ختيځ کې د چين مخ پر ودې ګټې او زياته ښکېلتيا د چين لاسته راوړنې ښيي. خو اوس وخت چين د دغو مواردو د ترسره کولو وړتيا نه لري. دا پر دې اغېز کوي چې چين سيمې ته څومره تمايل لري او ارزښت ورکوي. د پايلې په توګه ويلی شو چې په منځني ختيځ کې د چين ښکېلتيا سياسي او پوځي اړخ نه لري، بلکې تر اقتصادي او انرژيکي ملاحضاتو را محدوده ده.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عدنان خان**

**۱۴۴۴هـ ق، د جمادي الاول ۲۲مه**

۲۰۲۲م کال، د ډسمبر ۱۶مه